پښتو PASHTO PACHTO

# د ۲۰۰۶ کال لپاره د سرشمیرنې (د احصائیې اخستنې) پوښتنې

## او هغه دلایل چې ولی دا پوښتنې مطرح شویدي

# ســــریــــزه

دکاناډا بله سرشمیرنه د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې پر ۱۶ نیټه سرته رسیږي . د ۳۰۰ کلنو څخه زیات سرشمیرنه موږ ته دا سې یو رنګ شوي انځور راکوي چې آیا موږ د یو ملت په حیث څوک یوو او په کومو کمیونټیو ، ګروپونو ، بزنسونو او د حکومت لخوا به د انکشافي پلانونو په طرح کې لکه د ښوونې او روزنې ، روزنیز پروګرامونو کې ، د نویو تولیداتو او خدماتو لپاره ، او د ډېر عمره خلکو لپاره د کورنو جوړولو ، روغتیایي چارو او خدمتونو او په نورو ډیرو پروګرامونو کې چې موږ او تاسو ته ډېر ارزښت لري استعمال شي.

د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۶ کال سرشمیرنې ته ځواب ورکونکي کولاې شي دا پوښتنلیک د انټرنټ له لیارې ( آن لاین ) او یا د کاغذ پر مخ بشپړ کړي.

## لومړی برخه

د ۲۰۰۶ کال د سرشمیرنې د راټولو په هکله د فورمې دا برخه ۵۳ پوښتنې د ځواب ویلو لپاره لري، او په اوږدو فورمو نومول شویدي. ممکن د وګړو ٪۲۰ هغه بشپړ کړي د لنډ پوښتنلیک فورمې ۸ پوښتنې لري. چې لومړی ۶ پوښتنې ، ۱۶ پوښتنه او ۵۳ پوښتنه د اوږدو فورمو د پوښتنلیک څخه را اخستل شویدي .

## دوهمه برخه

دا برخه د کاناډا د سرشمیرنې اداري په دلایلو چې ولې دا پوښتنې طرح کیږي او د هغو ارقامو ( ډاټا ) د ارزښت په هکله چې د دې پوښتونو په وسیله لاس ته راځي دربرنیسي .

که تاسو د ۲۰۰۶ کال د وګړو د شیمرینې یا همداشانې د کرنې د احصائیې په هکله پوښتنې لری لطفاً خپل ډیر نژدې سرشمیرینې دفتر او یا د کاناډا د سرشمیرینې اداري سره چې آدرسونه ( پوستي پتې ) او ټیلفونونه یې په دا بل مخ کې لست شویدي تماس ونیسی .

# لومړی برخه

# د ۲۰۰۶ کال د سرشمیرینې (احصائیې) پوښتنې

# د ۲۰۰۶ کال د سرشمیرینې پوښتنې

د الف مرحله

کله چې دا برخه ډکه کړی محرمیت ئې خوندي دي

۲- په واضح ډول سره خپل د ټیلفون کود نمبر ولیکې.

د ټیلفون نمبر: کود نمبر

۳- که پورته ستاسو پته په ځانګړې ځای کې چاپ شوی نه وي او یا د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې پر ۱۶ نیټه په یوه بله پته او سیږي لاندې هغه ولیکې.

د آپارتمان نمبر

د سرک نوم ، ساحې یا د کور نمبر:

ولایت / تیرتیوری:

د ښار ، ولسوالی ، ښاروالی ،کلې ، د انډین ریزرو نوم :

پوستي کود :

## ۱ ـ د ب په مرحله کې کوم اشخاص شامل شي

- هر هغه څوک چې معمولاً دلته او په همدې پته اوسیږي. او هغه ماشومان چې نوي زیږیدلې وي او د کوټې اندیوالان.
- *محصلین* چې د خپلې رخصتی د تیرولو په خاطر پلار او مور کورته راځي او د دوي سره اوسیږي سره د دې چې د زده کړه په منظور او یا د اوږی د کار په لحاظ په بله پته اوسیږي باید پدې پته کې ولیکل شي.
- ماشومان چې په ګډه یې د مور او پلار لخوا سرپرستي کیږي او زیاتره وختونه دلته اوسیږي دا ماشومان په مساویانه ډول د پلار او یا مور سره ژوند کوي د دوي تومونه باید په هغه پته کې ولیکل شي چې د ۲۰۰۶ کال د مې پر ۱۶ نیټه هلته اوسیږي.
- میړه یا میرمن ( جوړی ) او کامن لاپارتنرز چې د زده کړې او یا کار له کبله په بله پته اوسیږی او کله نا کله دی پټی ته راستینږي، دلته دی ولیکل شي.
- نوي راغلي کډوال ( لنډ ایمګرنټس ) دی د اوسیدو په پته کې ولیکل شي.
- پناه غوښتونکي مهاجرین ( ریفوجي سټیټس ) چې د پناه غوښتنې ادعا لری د کورنی د نورو غړو سره دی په هغه پته کې ولیکل شی چې دوی هلته اوسیږي.
- دبل هیواد څخه هغه اشخاص چې د زده کړې په خاطر او یا د کار کولو د اجازې لیک پر اساس د خپلې کورنی د نورو غړو سره دلته اوسیږي د اوسیدو په پته کې دې ولیکل شي.
- هغه اشخاص چې معمولاً دلته ژوند کوي خو په یوه بله موسسه کې وي ( لکه یو زوړ شخص په کور کې ، په روغتون یا زندان کې ) او دوي تر ۶ میاشتو لږ هلته پاتې شوي وي پدې پته کې دی ولیکل شي.
- هغه اشخاص چې معمولاً د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې په ۱۶ نیټه دلته اوسیږي او کوم بل ځاي کې کور ونلری دلته لیکل کیږي.

## ۲ـ د ب په مرحله کې د ااشخاص نه شاملیږي

- هغه اشخاص چې معمولاً د کاناډا په یوه بله سیمه کې کور لری او په موقتي ډول دلته ژوند کوي ( د مثال په توګه هغه اشخاص چې د میلمستیا او یا لیدلو اوکتلو لپاره راغلی وی او یا دا چې د دوي دوهم استوګنځي دلته موقعیت ولری دلته نه لیکل کیږي.
- د یو بل هیواد وګړی چې کاناډا ته د سفر په خاطر راغلی وی ( د مثال په توګه د بزنس او یا د رخصتي د تیرولو په خاطر )
- د بهرنیو هیوادونو استازی او د دوي د کورنی غړی.

## ۳ـ نور کوم اشخاص دی چې د ب په مرحله کې شاملیدلې نشی.

○ ټول هغه اشخاص چې د ۲۰۰۶ کال د مې پر ۱۶ نیټه پردې پته اوسیږی او معمولاً د کاناډا په بله سیمه کې ژوند کوي یا د میلمستیا لپاره ورغلی وی او یا دا چې د نورو هیوادونو استازی وی دغه پوښتنه دی نه په نښه کوی.

→ لطفاً خپل نوم او د ټیلفون نمبر په واضح ډول لاندې ولیکي. دا پوښتنلیک مه ډکوي او په درلیږل سوي پاکت کې چې محصول یې تحویل شوي دې واچوي او د کاناډا د سرشمیرینې اداری ته یې راواستوي .

→ د کورنی نوم ( تخلص ) ____________ نوم ____________

→ د ټیلفون نمبر : ____________ ____________ کود نمبر ____________

# د ب مرحله

۱ ـ ستاسو په ګډون معمولاً د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې پر ۱۶ نېټه کوم شیمر اشخاص چې پر دغه پته ژوند کوي ؟ د ټولو اشخاصو نومونه ولیکی سره د دې چې په مؤقتي ډول چیرته تللی وی.

______________

۲ ـ د ځان په ګډون په واضح توګه د ټولو هغو اشخاصو نومونه په لاندني لست کې ولیکي کوم چې معمولاً دلته ژوند کوي. په پیل کې د کورنۍ د مشر نوم، وروسته د دغه شخص او خاوند / میرہ ( همسر ) یا کامن لا پارتنر که دلته صدق ولری او بیا د ده د کوچنیانو نومونه چې معمولاً دلته ژوند کوي په لست کې شامل کړی او په پای کې د ټولو هغو اشخاصو نومونه دی ولیکل شی چې دلته ژوند کوي.

| | نوم | د کورنۍ نوم (تخلص) |
|---|---|---|
| لومړی شخص: | | |
| دوهم شخص: | | |
| دریم شخص: | | |
| څلورم شخص: | | |
| پنځم شخص: | | |
| شپږم شخص: | | |
| اووم شخص: | | |
| اتم شخص: | | |
| نهم شخص: | | |
| لسم شخص: | | |

## د ج مرحله

آیا تاسو شکمن یاست چې په لست کې مو د کوم شخص / اشخاصو ، نوم / نومونه ندي شامل کړي چې ډاډ مو نه درلود چې آیا دا نوم / نومونه په لست کې شامل شي یا خیر ؟

د مثال په توګه

- هغه شخص چې پدې پته ژوند کوي خو په یو بل ځای کې کور لري.
- هغه شخص چې په مؤقتي ډول په کور کې نه و:

○ یه
○ هو ➔ نوم، خپلوي او دلیل یې څرګند کړی.

نوم /نومونه: ______________________

______________________

خپلوی: ______________________

دلیل: ______________________

## د ح مرحله

۱ ـ آیا د ب په مرحله کې داسې یو شخص شته چې پر کرونده ( فارم ) کې کار وکړی او لږ تر لږه یو زراعتي محصول د خرڅلاوه لپاره وړاندې کړی؟ ( د مثال په توګه غلې او دانې، څاروی، شیدې، چرګان، هګی، ګرین هاوس یا د ګلانو خونه یا قوریه، دکرسمس ونی، چمن، شات، د شاتو مچمچی، د ماپل د دوبنا محصولات ( د کاناډا عنعنوي شربت ) څرمنې او نور )

○ یه ➔ د خ مرحلې ته مراجعه وکړی .
○ هو

۲ ـ آیا د کروندی چلونکی د یوې او بلې ورځې پریکړې او د کروندی د تنظیم او ترتیب مسایل د دغه کروندي په هکله خپله کوي؟

○ یه
○ هو

## د خ مرحله

د هغو اشخاصو نومونه چې د ب په مرحله کې لومړی پوښتنې ته د څلورم مخ په سر کې لیکل شویدي په پرله پسې ډول دلته را نقل کړی.

## ۱ ـ نـــوم

په لاندې کې د هغو اشخاصو نومونه فهرست وار کاپي کړی چې د ب په مرحله کې ليکل شوي دي. اوس نو د هر شخص لپاره لاندينو پوښتنو ته ځواب ووايا ست.

لومړي شخص:
نوم:

دکورنۍ نوم ( تخلص ) :

## ۲ ـ جنس

- نر
- ښځه

## ۳ ـ د زيږيدو نيټه

| مثال: | ورځ : | مياشت : | کال: |
|---|---|---|---|
| | *1 3* | *0 2* | *1 9 5 0* |

*که د زيږيدنې رښتنې نيټه نه وي معلومه په تخميني ډول يې وليکي.*

**د زيږيدنې نيټه**

ورځ : ______ مياشت : ______ کال: ______

## ۴ ـ مدنی حالت

يوا ځې يو ځواب په ښنبه کړی.

- هيڅکله يې په قانوني توګه واده ندی کړی ( مجرد )
- په قانونی ډول يې واده کړی (جلا سوي ندي )
- جلا شوي دي خو په قانونی ډول ښځه او ميړه دی
- جلا سوي دي.
- کونډه / کونډ

## ۵ـ .آيا دا شخص د کامن لا د اصولو پر اساس د خپل پارتنر سره په شريکه ژوند کوي ؟

کامن لا پر هغو دوو اشخاصو دلالت کوي چې مخالف جنسونه ( ښځه او نر ) او يا هم دوه هم جنسه ( دوه ښځې يا دوه نران ) د يو او بل سره په جوړه توګه ژوند وکړی خو قانوني واده يې نه وي کړي .

- هو
- يه

۶ ـ خپلوي د لومړی شخص سره

معمولاً هر شخص چې دلته اوسیږي باید خپلوي یې د لومړی شخص سره ځرګند شي.

یو اځي یو ځواب په نښه کړی

ناسکه کوچنینان، منل شوي کوچنیان او د کامن لا د پارتنر شپ کوچنیان د زامنو او لوڼو په حیث پیژندل کیږي.
که چیري هیڅ ځواب صدق ونکړی د «بل» ستون استعمال کړی او د مطلوبه شخص خپلوي د لومړي شخص سره ځرګند کړی.
د مثال په توګه د «بل» خپلوی د لومړی شخص سره کیداې شی په لاندې توګه وښودل شی:

- ماما
- د ماما یا کاکا اولادونه (بچي)
- د مستاجر (کرایه ورکونکی، اجاره دار، او اجاره اخیستونکی) میرمن یا میړه
- د هم اطاقی لور یا زوي
- مستخدم
- د واده شوي همجنس همسر

لومړی شخص

- ○ لومړی شخص

دوهم شخص

- ○ د لومړی شخص میرمن یا میړه
- ○ د کامن لا د ژوند شریک (مخالف جنس) د لومړی شخص سره
- ○ د کامن لاد ژوند شریک (عین جنس) د لومړی شخص سره
- ○ د لومړی شخص لور یا زوي
- ○ د لومړي شخص زوم یا مږور
- ○ د لومړي شخص لمسی.
- ○ د لومړي شخص پلار یا مور
- ○ د لومړي شخص خسر یا خواښې
- ○ د لومړی شخص نیکه
- ○ د لومړي شخص ورور یا خور
- ○ د لومړي شخص اخښې یا خوښینه
- ○ د لومړي شخص شاګرد یا مستاجر
- ○ هم اطاقی

او نور باید ځرګند شی.

## ورځني فعالیتهای

۷ـ آیا دا شخص کوم د اوریدلو، خبري کولو، ګرځیدلو، پر زینې ختلو، کښیناستلو، پورته کیدلو، ټیټیدلو، زده کړې او یا ورته فعالیتونو په اجرا کې کومه ستونزه لری؟

- ○ هو، ځینې وختونه
- ○ هو، زیاتره وختونه
- ○ یه

۸ ـ جسمي یا دماغي یا روغتیایي ستونزې دې باعث ګرځي چې د دې شخص د فعالیتونو د اندازې یا ډول د کمید و سبب وګرځي په لاندي ځایونو کې:

(الف) په کور کې؟

- ○ هو، ځینې وختونه
- ○ هو، زیاتره وختونه
- ○ یه

(ب) په ښوونځي یا د کار په ځای کې؟

- ○ هو، ځینې وختونه
- ○ هو، زیاتره وختونه
- ○ یه
- ○ صدق نه کوي

(ج) په نورو فعالیتونو کې لکه ورړلو یا راوړلو او یا د فراغت په وختونو کې

- ○ هو، ځینې وختونه
- ○ هو، زیاتره وختونه
- ○ یه

## ټولنیز ـ فرهنګي معلومات

۹ـ دا شخص چیرې زیږیدلی دی؟

د نني پولو په نظر کې نیولو سره یوا ځې یو ځواب په نښه کړی.

په کاناډا کې زیږیدلی:

- ○ نیو فنلنډ
- ○ پرنس اډوارد ایرلنډ
- ○ نویا سکوشیا
- ○ نیو برونزویک
- ○ کیوبک
- ○ آنټریو
- ○ منیټوبا
- ○ سسکاچوان
- ○ آلبرټا
- ○ برټیش کولمبیا
- ○ یوکان
- ○ شمالي ټیریټوری ګانی
- ○ ننوویټ

د کاناډا څخه بهر زیږیدلی:

هېواد څرګند کړی:

______________________

۱۰ـ دا شخص د کوم هېواد تابعیت لری ؟

که صدق وکړی او دا شخص د یوه هېواد څخه زیات تابعیتونه ولری څرګند یې کړی.
که دا شخص د کاناډا د قانون پر اساس «تابعیت - کاناډا» لاس ته راوړي وي دا وهغې پروسې ته نسبت تابعیت امتیاز ورکول کیږي.

- ❍ د زیږیدو پر اساس کاناډا
- ❍ د قانون پر اساس، تابعیت ـ کاناډا

د بل هېواد تابعیت، څرګند یې کړی :

____________________

---

۱۱ ـ آیا اوس یا پخوا دا شخص لنډ ایمګرنټ وو ؟

"لند ایمگرنت "یا " دایمی استوګنه اخستل " هغه چاته ویل کیږي چې د کاناډا د قانون پر اساس د مهاجرت د مقاماتو څخه یې داسې اجازه تر لاسه کړې وی چې په دایمي توګه کولای شي په کاناډا کې ژوند وکړی.

- ❍ یه ← ۱۳ پوښتنې ته ورسی:
- ❍ هو

---

۱۲ ـ دا شخص لومړی په کوم کال کې د لنډ ایمګرنټ په توګه ومنل شو ؟

کال: __________

که ربښتنی کال معلوم نه وي په تخمیني توګه یې چې ربښتني کال ته ډیر نږدې وي ولیکې

---

۱۳ ـ آیا دا شخص کولای شی په ښه توګه په انګلیسي یا فرانسوي ژبه خبري وکړي؟
یوازې یو ځواب په نښه کړي.

- ❍ یوائې انګلیسی
- ❍ یوائې فرانسوی
- ❍ دواړه ژبې انګلیسی او فرانسوی
- ❍ نه انګلیسی او نه په فرانسوی

---

۱۴ ـ آیا دا شخص کولای شی پرته له انګلیسي یا فرانسوي په نورو ژبو خبری او محاوره وکړی ؟

- ❍ په یوه هم نه

یــا

نورې ژبې ،څرګند یې کړی ؟

____________________

____________________

---

۱۵ ـ (الف) دا شخص اکثراً په کور کې په کومه ژبه خبري کوي ؟

- ❍ انگلیسی
- ❍ فرانسوی

بله ژبه ، څرګند یې کړی :

________________

(ب) آیا دا شخص په منظمه توګه په کور کې په نورو ژبو خبرې کوي ؟

- ❍ یه
- ❍ هو ، انگلیس
- ❍ هو ، فرانسوی

بله ژبه ، څرګند یې کړی:

________________

---

۱۶ ـ آیا دی شخص د لومړی ځل لپاره په کوچنیتوب کې په کور کې کومه ژبه زده کړه او تر اوسه پر هغې پوهیږي ؟

*که دغه کس هغه ژبه چې لومړی یې زده کړې ده او س نه پرې پوهیږي، څرګنده یې کړې چې اوس په کومه دوهمه ژبه پوهیږی.*

- ❍ انگلیسی
- ❍ فرانسوی

بله ژبه ، څرګند یې کړی :

________________

---

د سلو کلنو څخه راپدېخوا سرشمیرینې د وګړو د نیکه ګانو د اصلیت (منشا) په باره کې معلومات را ټول کړیدي دا د کاناډا د وګړو مرکب او ډول ډول انځور څرګندوي.

۱۷ ـ د دغه شخص د نیکه ګانو نژادي یا فرهنګي اصلیت کوم وو ؟

آیا د یو نیکه څخه په ډیر شاته واټن کې موقعیت لری.

دمثال په توګه: کاناډائي، انگلیسي، فرانسوي، چینائي، ایټالوي، جرمني، سکاټلندي، شرقي انډین ، ایرلندي، کری، میکماک ، میټس، اینوت (اسکمیوئي) ، اوکرایني، هالندي، فلیپاني، پولیندي، پرتګالي، یهودي، یوناني، جامیکائي، ویتنامي، چلی، سلوادوري، سومالیائي او داسې نور .

په هر شمیر چې آبائي اصلیتونه موصدق کوي په واضح ډول یې ولیکي:

________________
________________
________________
________________

---

۱۸ ـ آیادا شخص یو اب اوریجینل دی یعنی د شمالی امریکا انډین، میتس یا اینوت(اسکیمو ) ؟

که جواب مو «هو» وي هغه ځواب په نښه کړي چې اوس دا شخص په ډیر ښه توګه تشریح کوي.

- یــه ، ← بلې پوښتنې ته ورشي.
- هو ، د شمالی امریکا انډین
- هو ، میتس ، ◀ ۲۰ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- هو ، اینوت( اسکیمو )

---

۱۹ ـ آیا داشخص :

که صدق وکړی کولای شی د یوه څخه زیات ځوابونه په نښه کړی .

د دې ځوابونو په راټولو سره د هغو پروګرامونو برابرول او تقویه کول دی تر څو مساویانه فرصتونه د کاناډا د هر وګړی لپاره میسر او په ټولینز - فرهنګي او اقتصادي ژوند کې په ګډه برخه واخلی .

- سپین دی
- چینایي دی
- جنوبي آسیا (لکه شرقي هند ، پاشخصتاني، سریلانکائي او داسې نور )
- تور
- فلیپیني
- دلاتین امریکی
- د جنوب شرقي آسیا (لکه ویتنامي، کمبودیائي، مالیزیائي، لاوتنی او داسې نور )
- عرب
- غربي آسیا (لکه ایرانی، افغان اوداسې نور )
- کوریائي
- جاپاني

نور ، څرګند یې کړی :

---

۲۰ ـ آیا دا شخص د انډین باند / فرسټ نیشن یو غړی دی ؟

- یه
- هو ، د انډین باند / فرسټ نیشن ، یو غړی دی

↓

انډین باند / فرسټ نیشن څرګند یې کړی (د مثال په توګه مسکوویم )

۲۱ ـ آیا دا شخص د کاناډا د انډین قانون پر اساس یو تریټي انډین یا راجسټرډ شوي انډین دی ؟

- ❍ یـه
- ❍ هو ،تریټي انډین یا راجسټرډ شوي انډین دی.

## د یو ځاي څخه بل ځاي ته کډه کول ( نقل مکاني یا لیږدیدنه )

۲۳ ـ یو کال د مخه د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې پر ۱۶ نیټه دا شخص چیرته ژوند کاوه

یواځې یو ځواب په نښه کړی

یادوونه :

هغه اشخاص چې دریم ځواب په نښه کوي :

لطفاً د ښا ر یا ولسوالی او د ځرګندی سیمې نوم باید ولیکل شی نه دا چې یواځې د لوي ښار نوم ولیکل شی.

د مثال په توګه:

- ساینک نه ویکټوریا ( د لوي ښار نوم)
- سنټ البرټ نه ایډمنټین ( د لوي ښار نو من)
- لاوال نه مونټریال ( د لوي ښار نوم)

- ❍ اوس چې په کښې ژوند کوي همدا ئې پته ده
- ❍ په بله پته خو په همدې ښار ولسوالی، کلی، ښاروالی او لوي ښار یا په انډین ریزرو کې( د انډیانو د اوسیدلو ټاکل شوی
- ❍ ځایونه ) په بل ښار ، ولسوالی، کلی، ښاروالی او لوي ښار یا د انډیانو د اوسیدو ټاکل شوي ځایونه په کاناډا کې

↓

ځرګند یې کړی :

ښار، ولسوالی، ښاروالی، لوي ښار یا انډین ریزرو

____________________

____________________

ولایت / تیرتوری:

____________________

پوستی کود:

________ ________

- ❍ د کاناډا څخه یې بهر ژوند کاوه

↓

د هیواد نوم ځرګند کړی :

____________________

۲۴ ـ دا شخص د ۲۰۰۱ کال د مې د میاشتې پر ۱۶ نیټه یعنې پنځه کال دمخه چیرته اوسیده ؟

یوازې یو ځواب په نښه کړی .

یادونه :

هغه اشخاص چې دریم ځواب په نښه کوي:

لطفاً د ښار ، ولسوالۍ او د څرګندې سیمې نوم باید ولیکي نه دا چې یوازې د لوی ښار نوم ذکر سی د مثال په توګه.:

د مثال په توګه :

- ساینک نه ویکتوریا ( د لوی ښار نوم)
- سنټ البرټ نه ایډمنټین ( د لوی ښار نومن)
- لاوال نه مونټریال ( د لوی ښار نوم)

- اوس چې په کښې ژوند کوي همدا ئې پته ده
- په بله پته خو په همدې ښار ولسوالۍ ، کلي ، ښاروالۍ او لوی ښار یا په انډین ریزرو کې ( د انډیانو د اوسیدلو ټاکل شوی ځایونه ) په بل ښار ، ولسوالۍ ، کلي ، ښاروالۍ او لوی ښار یا د انډیانو د اوسیدو ټاکل شوي ځایونه په کاناډا کې

↓

څرګند یې کړی :

ښار ، ولسوالۍ ، ښاروالۍ ، لوی ښار یا انډین ریزرو

____________________

____________________

ولایت / تیرتوری:

____________________

پوستی کود:

________ ________

- د کاناډا څخه یې بهر ژوند کاوه

↓

د هیواد نوم څرګند کړی :

____________________

## د والدينو د زيږيدو ځاي

۲۵ ـ د دغه شخص پلار او مور هر يو په کوم ځاي کې زيږيدلې دی ؟

(الف) پلار

د اوسنيو پولو پر اساس د دغه شخص د زيږيدو هيواد څرګند او په نښه کړی.

پلار

- ○ په کاناډا کې زيږيدلې دی

د کاناډ اڅخه بهر زيږيدلې دی

هيواد يې څرګند کړی :

---

(ب) مــور

د اوسينو پولو په نظر کې نيولو سره د دغه شخص زيږيدو هېواد څرګند او په نښه کړی.

مــور

- ○ په کاناډا کې زيږيدلې دی

د کاناډ اڅخه بهر زيږيدلې دی

هيواد يې څرګند کړی :

---

## ښوونه او روزنه

۲۶ ـ آيا دې شخص ثانوي ښوونځي ( د ليسې دوره ) بشپړ کړی او ډيپلوم او يا د هغې معادل يې ( اندول ) لاس ته راوړی دی ؟

د ثانوي ښوونځي څخه ( های سکول ) د تصديق د درلودلو معادلت عبارت دی د ښووني عمومي انکشاف ( GED ) او د لويانو لپاره اساسي تعليم ( ABE ) .

د ثانوي ښوونځي ( های سکول ) څخه ډيپلوم يا تصديق

- ○ هو ، دثانوي ښوونځي څخه ډيپلوم
- ○ هو ، د ثانوي ښوونځي څخه د معادلت تصديق.
- ○ يه

۲۷ ـ آیا دې شخص د یو راجسټرډ شوی حرفوي یا مسلکي تعلیمي مؤسسې څخه تصدیق او یا ډیپلوم ترلاسه کړی ؟
په هر شمیر ځوابونه چې صدق کوي هغه په نښه کړی.

**د مثال په توګه**

- د ویښتانو سمبالول
- د CNC میخانیک

د حرفوي راجسټرډ شوی یا مسلکي تعلیمي مؤسسې څخه تصدیق یا دیپلوم.

- ❍ هو ، د حرفوي راجسټرډ شوی تعلیمي مؤسسې څخه تصدیق
- ❍ هو ، د نورو مسلکي تعلیمي مؤسسو څخه تصدیق او یا ډیپلوم
- ❍ نه

---

۲۸ ـ آیا دې شخص **کالج** ، CEGEP او یا نورو د **پوهنتون څخه پرته تعلیمي موسسات** بشپړ کړی تصدیق یا ډیپلوم یې ترلاسه کړی ؟
هر شمیر ځوابونه چې صدق کوي هغه په نښه کړی

**د مثال په توګه**

- د محاسبې ټکنالوژي
- د رهنمای معاملات اجنټ
- صنعتي انجینري ټکنالوژي

د کالج ، CEGEP او یا نورو د پوهنتون څخه پرته د تعلیمي مؤسساتو څخه تصدیق یا ډیپلوم لری؟

- ❍ هو ، تصدیق یا ډیپلوم چې د زده کړې دوره یې د ۳ میاشتو څخه لږ وه
- ❍ هو ، تصدیق یا ډیپلوم چې د زده کړې دوره یې د ۳ میاشتو څخه نیولې او لږ تر یوه کاله وه
- ❍ هو ، تصدیق یا ډیپلوم چې د زده کړې دوره یې د یو کال څخه نیولې بیا تر دوو کلنو پورې وه
- ❍ هو ، تصدیق یا ډیپلوم چې د زده کړې دوره یې د ۲ کلنو څخه زیاته وه
- ❍ نه .

---

۲۹ ـ آیا دې شخص د پوهنتون لوست بشپړ کړی او شهادتنامه ، تصدیق یا ډیپلوم یې اخستې دی ؟
هر شمیر ځوابونه چې صدیق کوي هغه په نښه کړی.
د پوهنتون څخه شهادتنامه ، تصدیق او یا ډیپلوم

- ❍ هو ، تصدیق یا ډیپلوم د باچلر (لیسانس) د سویې څخه کښته.
- ❍ هو ، د باچلر شهادتنامه (LLB) په شمول
- ❍ هو ، د باچلر څخه لوړ ( د لیسانس څخه مافوق) تصدیق یا ډیپلوم
- ❍ هو ، د ماستری شهادتنامۀ
- ❍ هو ، په طبابت کې ، غاښونو ، دبیطاری (وټرنري ) په طبابت کې، لید سنجي.
- ❍ هو ،ډکتورا یې لاسته راوړي ده
- ❍ نه .

---

۳۰ ـ د دې شخص هغه ډېره لوړه زده کړه چې بشپړ کړې يې ده د تحصيل رشته يې په شهادتنامه ، تصديق يا ډيپلوم کې څه شی ده ؟

لطفاً ډېر ځرګند اوسی، د مثال په توګه:

- *د موټر ميخانيکي*
- *دلاروا وکورونو جوړولو مهندسي*
- *د غانبونو ټکنالوژي*
- *دالوتکی ميخانيکي*
- *د طبي لابراتوارو ټکنالوژي*
- *ورځنی مراقبت(ډی کر/ورکتيون)*
- ا زراعتي اقتصاد

د لوړو زده کړو په شهادتنامه، تصديق يا ډيپلوم کې د تحصيل اصلي رشته:

____________________

____________________

____________________

____________________

يا

○ عالي ډيپلوم( لوړ هغه دچا څخه چې هيڅ تصديق ونلری او يا د ښوونځي ډيپلوم يې لاس ته نه وي راوړي ) ◄ ۳۲ پوښتنې ته دی مراجعه وشي.

۳۱ ـ دې شخص په کوم ولايت، ټيرټوري يا هيواد کی د لوړو زده کړو شهادتنامه، تصديق يا ډيپلوم بشپړ کړيدي.

په کاناډا کې

په ځرګند ډول ولايت يا ټيرټيوری وليکي:

____________________

يا

د کاناډا څخه بهر

هيواد ځرګند کړی :

____________________

۳۲ ـ آيا دا شخص د ۲۰۰۵ کال د سپټمبر راهيسې کوم وخت کالج، CEGEP يا پوهنتون ته د تحصيل په غرض ورغلې دی ؟

کوم شمير ځوابونه چې صدق کوي هغه په نښه کړی.

○ هو ، لومړي ښوونځي، متوسطی يا ثانوي ښوونځي ته تللې دی.

○ هو ، د تجارت ښوونځي ، کالج، CEGEP يا پوهنتون نه پرته بلې تعليمي مؤسسې کې لوست ته حاضر شوی.

○ هو ، پوهنتون ته د لوست لپاره تللې دی.

○ يه ، د ۲۰۰۵ کال د سپټمبر راهيسې کوم وخت د لوست لپاره ښوونځي ته ندي تللی.

## کورني فعالیتونه

یاددونه:

*تیره اوونۍ معنې یې د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې د ۷ نیټې د یکشنبې د ورځې څخه بیا د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې تر ۱۳ نیټې د شنبې ورځې پورې دی*

۳۳ـ دې شخص تیره اوونۍ څو ساعته د کښتنو فعالیتونو لپاره صرف کړي دي:

(الف) دې شخص پرته له مزده څو ساعته د کور د غړو او یا نورو خلکو لپاره د کور په چارو کې، د حویلې په غولۍ کې، د کور د سمبالښت او ترمیم په برخه کې صرف کړیدي؟

څنې مثالونه:

د خوړولو تیارول، د موټر پرمینځل، د کالیو پریمنځل، د چمن قطع کول، سودا اخستل د بازار څخه، کورته پلان جوړول او داسې نور.

- یو هم نه
- د ۵ ساعتو څخه لږ
- د ۵ تر ۱۴ ساعتونو پورې
- د۱۵ تر ۲۹ ساعتونو پورې
- د ۳۰ تر ۵۹ ساعتونو پورې
- د ۶۰ ساعتونو څخه ډیر

(ب) دې شخص څو ساعته پرته له مزده د خپلو یا پردیو کوچنیانو د غمخورۍ لپاره صرف کړیدی؟

د مثال په توګه:

د کوچنیانو پریمنځل او د هغوی سره لوبې کول، د کوچنیانو بیول سپورټي فعالیتونو ته، یا د هغوی سره د دوی په کورنۍ کارونو کې مرسته، یا د تنکیو ځوانانو سره د دوی د پرابلمونو په خاطر خبرې کول او داسې نور.

- یو هم نه
- د ۵ ساعتو څخه لږ
- د ۵ تر ۱۴ ساعتونو پورې
- د۱۵ تر ۲۹ ساعتونو پورې
- د ۳۰ تر ۵۹ ساعتونو پورې
- د ۶۰ ساعتونو څخه ډیر

(ج) د یوه یا ډیرو عمر خوړلو اشخاصو سره مرسته او یا د دوی غمخورۍ پرته له کومه مزده؟

ځینې مثالونه:

د کورنۍ د یو عمر خوړلي شخص غمخوري، کتل او لیدل د یو عمر خوړلی شخص سره ، په ټیلفون کې د دوی سره خبری کول، د دوی سره د سودا په رانیولو ، بانکي چارو یا د دوا په ورکولو کې مرسته اوداسې نور.

- یو هم نه
- د ۵ ساعتو څخه لږ
- د ۵ تر ۹ ساعتونو پورې
- د۱۰ تر ۱۹ ساعتونو پورې
- د ۲۰ ساعتونو څخه ډیر

# کاري فعالیتونه ( د لیبر مارکیټ فعالیتونه )

**۳۴ ـ** دې شخص تیره اوونۍ څو ساعته د مزد ګټلو په خاطر او یا خپل ځاني په کار ( شخصي کار و بار ) کې صرف کړیدي ؟

لطفاً په تیره اونۍ کې د کارکولو د ټولو ساعتونو شمیر چې د مزد ګټلو او یا د ځاني استخدام په کارونو کې صرف کړیدی ولیکي.
د مثال په توګه:

- د مزد ګټلو ، معاش، بخشش یا کمیشن لپاره کار کول .
- یو اځې یا د بل چا په ګډون د خپل بزنس، فارم یا حرفوي مشغولتیا لپاره کار کول.
- په مستقمیه توګه کارکول پر خپل فارم یا بزنس کې پرته له کوم رسمي مزد څخه( د مثال په توګه د تخمي نیالګیو تولید ، محاسبه او داسې نور.

د کار کولو د ساعتونو شمیر ( په دقیقه توګه ) :
______ ← ۴۰ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
یا
○ یو هم نه. ← دابلې پوښتنې ته مراجعه وکړی.

**۳۵ ـ** آیا تیره هفته دا شخص په موقتي ډول له کاره ګوښه کړاې شوی وه. یا دا چې د خپل کار یا بزنس څخه غیر حاضر وه ؟

یو اځې یو ځواب په نښه کړی.

○ یه
○ هو ، د مؤقتي ګوښه کیدو له کبله یې انتظار درلود چې بیرته کارته ستون شي.
○ هو ، د تفریحي رخصتي له کبله د ناروغی. اعتصاب یا لاک اوت یا د نورو علتونو په لحاظ د کار څخه غیر حاضر وه.

**۳۶ ـ** آیا تیره اونی. دې شخص قطعي آماده ګی درلوده چې خپل نوي کار په ۴ هفتو کې پیل کړی ؟

○ یه
○ هو

**۳۷ ـ** آیا دې شخص په تیرو څلورو اونیو کې د با مزده کار د لټولو لپاره هڅه کړی ؟

د مثال په توګه: آیا دې شخص د استخدام کونکو سره تماس نیولې ، په ورځپاڼه کې یې اعلان کړی یا د استخدام اعلاناتو ته یې ځواب ویلې. او داسې نور ؟

**یو ځواب په نښه کړی**

○ **یه** ← ۳۹ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
○ هو د ټولې ورځې د کار لپاره یې ( فول ټایم ) هڅه کړیده
○ هو ، د نیمې ورځې د کار لپاره یې(پارټ ټایم ) هڅه کړیده ( یعنې په یوه اوونۍ کې د ۳۰ ساعتونو څخه لږ کار ).

۳۸ ـ آیا دې شخص په تیره اونۍ کې که کار ورته پیدا شوي واې کولاې سو چې هغه پیل کړي ؟
یوائې یو ځواب په نښه کړی

- هو ، کولاې شو په یو ه کار پیل وکړی.
- یه ، پخوا په یوه کار کې شامل شوي وه
- یه ، د ناروغی یا د کمزورۍ له کبله
- یه ، د شخصي یا کورنۍ ملحوظاتو په لحاظ
- یه ، ښوونځي ته لوست ویلو ته ځي.
- یه ، داسې نور علتونه.

۳۹ ـ د دې شخص وروستۍ کار د مزد سره او یا ځاني استخدام کې و لو که د څو ورځو لپاره یې هم کار کړی وی څه وخت وه ؟
یوائې یو ځواب په نښه کړی

- په ۲۰۰۶ کال کې ← راتلونکي پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- په ۲۰۰۵ کال کې ← راتلونکي پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- د ۲۰۰۵ کال دمخه ← ۵۱ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- هیڅکله ← ۵۱ پوښتنې ته مراجعه وکړی.

**یاددونه:** د ۴۰ پوښتنې څخه تر ۴۸ پوښتنې پورې په تیره اوونۍ کې د دغه شخص د کار او یا شخصي بزنس پورې اړه لري. که په تیره اونۍ کې دې شخص کار نه درلود هغه پوښتنې ته دې ځواب وویل شي چې ده د ۲۰۰۵ کال د جنوری د لمړی نیټې تر ټولو څخه زیات وخت هلته کار کړیدی. همدا شاني که دې شخص په تیره اونۍ کې د یوه کار څخه په ډیرو کارونو کې مصروفه وه هغه پوښتنې ته دې ځواب وو ایي چې د ټولو څخه یې زیات ساعتونه هلته اړولي دی.

۴۰ ـ دې شخص د چالدپاره کار کړی ؟

که دې شخص د هغه چا سره کار کړیدی چې ځاني استخدام یې درلود د بزنس نوم یې ولیکي که دی بزنس نوم نه درلود د بزنس د خاوند نوم دی ولیکل شي.

*په واضح ډول خپل ځواب ولیکي.*

دبزنس یا د حکومتي موسسې نوم او داسې نور.

**<u>A B C CONCRETE PRODUCTS LIMITED</u>**

دموسسې نوم ، د حکومت نماینده گی :

____________________

____________________

____________________

شعبه ، کارخانه، اداره او نور ( که صدق وکړی ) :

____________________

____________________

۴۱ ـ دا څه ډول برنس، خدمات او یا صنعتي کار وه ؟

لطفاً تفصیل ورکړی. د مثال په توګه:

- د نوي کور جوړول
- لومړنی ښوونځي
- ښاري پولیس
- د غنمو فارم
- د بوټونو پلورنځي
- د خوراکي موادو عمده فروشي
- د موټر د پرزو جوړولو فاربریکه

د بزنس، صنعت یا خدماتو ډول:

---

۴۲ ـ د دې شخص کار یا ظیفه څه شی وه ؟

لطفاً ډیر څرګند اوسی. د مثال په توګه:

- د حقوقو په دفتر کې سکرتړی
- نلدوان ( نل غزونکی )
- د کبانو د نیولو لارښود.
- د موبل او فرنیچر بسته کار
- په ثانوي ښوونځی کې ښوونکی

( که په وسله وال پوځ کې ، رتبه یې ولیکي )

پیشه:

---

۴۳ ـ د دغه شخص اصلي وظیفه په دغه فعالیتونو کې څه شی وه ؟

لطفاً په تفصیل سره یې ولیکی ، د مثال په توګه:

- د قانوني اسنادو تیارول
- په استوګن ځایونو کې د نلونو غزول
- لارښونه د کب نیولو ګروپونو ته
- د لرګیو څخه فرنیچر جوړول
- د ریاضیاتو ښوونکي

اصلي فعالیتونه:

۴۴ ـ دې شخص عمدتاً پدې کار یا بزنس کې څه فعالیت کاوه ؟

یواځې یو ځواب په نښه کړی.

- د مزد ، معاش، بخشش یا کمیشن د ګټلو په خاطر یې کار کاوه. ← ۴۶ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- پرته له مزده خپل میړه / ښځې یا بل خپلوان ته په فامیلي فارم یا بزنس کې کار کاوه. ← ۴۶ پوښتنې ته مراجعه وکړی.
- پرته له مزده خپل شخصي کار او بار په مخه بیول ( یواځې یا د بل چا په ګډون )
- د مزد په بدل کې خپل شخصي کار او بار په مخه بیول ( یواخي یا د بل چا په ګډون )

---

۴۵ ـ که دی شخص د ځان لپاره ( شخصي کار ) کار کاوه بزنس یا د کرنی فارم یې حقوقي شخصیت درلود ؟

- یــه
- هو

---

۴۶ ـ د کار د ځاي پته چې معمولاً دا شخص اکثره وخت پکښې مشغول وه. څرګند یې کړی. ؟

*د مثال په توګه:* *West* *Ave.* *Laurier* *365*

*سمت:* ← *West*

نوعیت: ← *Ave.*

د سرک نوم: ← *Laurier*

د کار د ځاي نمبر: ← *365*

*که چیری لوری (لکه شمال ، جنوب، شرق یا غرب ) د سړک د نوم جزوي هغه په پته کې ولیکی*

*که چیرې د سړک نوم معلوم نه وي او یا پته یې پوستي صندوق وي ، ډیره نږدې څلورلاره یا تعمیر یې څرګند کړی ، . یوازې د پوستې صندوق نوم مه لیکي*

*ددې پر ځاي چې یواځې د لوي ښار نوم ولیکی باید د ښار ، ولسوالی او د څرګند ځاي نوم هم ور زیات شی.*

د مثال په توګه:

- ساینک نه ویکټوریا ( د لوي ښار نوم )
- سنټ البرټ نه ایډمنټن ( د لوي ښار نومن )
- لاوال نه مونټریال ( د لوي ښار نوم )

که چیری د کار د ځاي پته د کار د خاوند د پتې سره توپیر ولری لطفاً هغه پته ولیکی چې دا شخص په رښتنې سره هلته کار کوي ( د مثال په توګه ښوونکي باید د خپل ښوونځي پته ولیکی په عوض د دې چې د ښووني ( او روزنې اداري پته ولیکي )

- ❍ په کورکې يې کار کاوه (د کرنې د فارم په ګډون ) ← ۴۸ پوښتنې ته ور شی
- ❍ د کاناډا څخه يې بهر کار کاوه ← ۴۸ پوښتنې ته مرا جعه وکړی.
- ❍ **د کار د ځاي کومه څرګنده پته نشته** ← **۴۷ پوښتنې ته مراجعه و شی.**
- ❍ په لاندنې څرګنده پته کې يې کار کاوه

## بشپړه پته وليکی

د کوڅې يا سړک پته: (مثال وګوری)

____________________
____________________
____________________

ښار، ښارګوټې، کلی، لوي ښار، ښاروالی يا انډين ريزرو:

____________________
____________________

**ولايت يا ټيريټوری:**

____________________

**پوستي کود:**

________ ________

---

**۴۷ ـ** دا شخص **معمولاً** څرنګه کار ته ځي ؟

*که چيرته د ډيرو ترانسپورتي وسيلو څخه استفاده کوي يوا ځې **هغه وسيله دي وليکل شی چې زياتره فاصله پرې ځي.***

- ❍ موټر، لاری يا وان په خپله دا وسايل چلوي .
- ❍ د بل چا د موټر، لاری يا وان په وسيله ليږدول کيږي.
- ❍ د عامه ترانسپورټي وسيلې څخه استفاده کوي (لکه سرويس(بس)، سټريټ کار، سب وې، لايت ريل ټرانزيټ کميوټر شدن، کشتی)
- ❍ پر پښو ځي
- ❍ بايسکل
- ❍ موترسايکل
- ❍ تشخصی :
- ❍ بله طريقه

۴۸ـ (الف) په کار کې اکثره په کومه ژبه زغیږي . ؟

- انګلیسي
- فرانسوي

نور ، څرګند یې کړي :

________________

(ب) ایا دا شخص د خپل کار په خاي کې د نورو ژبو څخه په منظمه توګه هم استفاده کوي.

- یه
- انګلیسي
- فرانسوي

هو ، نورې ژبې څرګند یې کړی :

________________

---

۴۹ـ په ۲۰۰۵ کال کې دې شخص څو اونۍ کار کړیدي ؟

لطفاً څرګند کړی چې دې شخص د ۲۰۰۵ په اوږدو کې په مجموعي ډول څو اونۍ په ټولو کارونو کې اویاد خپل شخصي کار او بار په مقابل کې مزد اخیستې دی ؟

هغه اونۍ هم په حساب کې راولی کوم چې دا شخص:

- په رخصتي تللې وه یا د ناروغۍ له کبله کار ته نته ، خو معاش ورکول کیده.
- ټوله ورځ ( فول تایم) یا نیمه ورځ کار (پارت تایم) کار درلود
- د مزد ، معاش، بخشش یا کمیشن په بدل کې کار کاوه.
- شخصي کار و بار یعنې د خان لپاره یې کار کاوه
- پرته له کوم ټاکلي او رسمي مزده څخه مستقیماً د کورنۍ په زراعتي فارم یا بزنس کې کار کاوه.

- **یو هم نه.** ← ۵۱ پوښتني ته مراجعه وکړی.

**یا :**

________________ ← د اونیو شمیر ولیکي:

---

**۵۰ـ** آیا دې شخص زیاتره وختونه پدغو اونیو کې ټوله ورځ یا نیمه ورځ کار کړیدي ؟

یوا ځې یو ځواب په نښه کړی

- ټوله ورځ ( ۳۰ ساعته او یا ډیر په یوه اونۍ کې.)
- نیمه ورځ (له ۳۰ ساعته څخه لږ په یوه اوونۍ کې )

---

## د ۲۰۰۵ کال عوايد

۵۱ـ د وخت د سپما په خاطر هر وګړي د کاناډا د سرشميرينې اداري ته اجازه ورکولای شی تر څو د عوايدو معلومات چې د ماليات بر عايدات (انکم ټشخص) په فورمو کې موجود دې د ۵۲ پوښتنې په ځواب کې وليکي.

- *دا امکان هغه چاته ميسر دی چې د محصول د راستنيدو (ټشخص ريټرن) تقاضا يې د دغه کال لپاره چې د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۱۳ نيټه ختم کيږی کړي وي.*
- 

لطفاً په ياد ولری چې د ماليات بر عايدات معلومات به يوائې د دغه سر شميرنې په مقصد استعمال شی او بس.

آيا دا وګړی د سرشميرينې اداري ته اجازه ورکوي چې د عوايدو (انکم) معلومات چې د پخوا څخه د دغه شخص د ماليات بر عايدات په فورمو کې موجود دی او دغه کال چې د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر پر ۳۱ نيټه ختم کيږي د استفادې اجازه ورکړی ؟

- ○ هو ، ← لومړی وکړی موافق دی ۵۳ پوښتنې ته ور شی.
- ○ يه ، ← ۵۳ پوښتنې ته ور شی.

---

۵۲ـ دغه کال چې د ۲۰۰۵ د ډسمبر په ۳۱ نيټې پای ته رسيږي آيا دې وګړې ځينی عوايد د کښتنيو منابعو څخه لاس ته راوړي ؟

د ټولو منابعو لپاره « هو » يا د « يه » ځواب وليکي که ځواب مو « هو » وي د پيسو اندازه هم وليکي او که تاوان مو کړي وي د « تاوان » خانه په نښه کړی.

## اخستل شوي مزد په استخدام کې:

(الف) د اجورې او تنخواه د مجموعي اندازې په ګډون د کميشن، فوق العاده پيسې (بونس، بخششي ګانې، هغه امتيازات چې تشخص پرې ورکول کيږي، تحقيقاتي پيسې ، ګرانټس ) ، حق الامتيازونه او داسې نور مخکې له وضعياتو څخه دی دلته وليکل شی.

○ هو ،

↵ .00 ______ ______ ____ ډالره

○ يه ،

---

## شخصي کار و بار ( سيلف ايمپلويمنټ )

(ب) د کرنې د فارم څخه خالص عايد (ناخالص عوايد د مصارفو څخه وضع کړی ) بشمول د ګرانټس ، سب سايدي يعنې هغه پيسې چې د فارم د پروګرامونو د تقويې او ودې په غرض ورکول کيږي، د بازار يابی مصارف ( مارکيټنګ ) چې بورډ ته ورکول کيږي، د بيمې مصارف او داسې نور.

○ هو ،

↵ .00 ______ ______ ____ ډالره

○ تاوان

○ يه ،

(ج) خالص عوايد چې پرته د کرنې د فارم څخه د شخصي کار و بار ، غير سهامي بزنس يا حرفوي فعاليتونو او نورو څخه لاس ته ورورېږي (ناخالص عوايد د مصارفو څخه وضع کړی)

○ هو ،

.00 ______ ______ ____ ډالره

○ تاوان

○ يه ،

---

# د حکومت څخه عوايد

(ح) د کوچني لپاره امتيازات (چايلډ بينيفټس) لکه د کوچنيانو لپاره په ټشخص کې امتيازات (چايلډ ټشخص بينيفټس) د کورنيو لپاره مالي امتيازات (فډرالي ، ايالتي او ټيريټوريل.

○ هو ،

.00 ______ ______ ____ ډالره

○ يه ،

(خ) د ډېر عمره حلکو لپاره په تقاعد کې امتيازات (اولډ ايج سيکوريټي پنشين) ، ګرانټي شوی کمکي عوايد (ګرانټيد انکم سيپليمنټ) ، نور امتيازات ، امتيازات د هغه چا لپاره چې ژوندی پاتې دي. يوا ځې د فډرالي حکومت لخوا (ايالتي کمکي عايد بايد دس په بند کې راپور ورکړی شي.)

○ هو ،

.00 ______ ______ ____ ډالره

○ يه ،

(د) هغه پيسې چې د کاناډا يا کيوبک د پينشن (د تقاعد د پلان پر اساس) لاندې تر لاسه کوی.

○ هو ،

.00 ______ ______ ____ ډالره

○ يه ،

(ذ) هغه پيسې چې د استخدام د بيمې لخوا ورکول کيږي (مجموعي پيسې مخکې له دې نه چې ټشخص ځينې وضع شی)

○ هو ،

.00 ______ ______ ____ ډالره

○ يه ،

(ر) دحکومتي منابعو څخه نور عوايد لکه کمکي يا بخشيشي پيسې د ايالتي حکومت لخوا ، / QST/ GST HST کريډيتونه، ايالتي د ټشخص کريډټ ، کارګرانو ته د جبران پيسې، پيسې د کار د سابقه داری پر اساس، او هغه پيسې چې د ولفير لخوا ورکول کيږي.

❍ هو ،

↲ .00 ______ ______ ____ ډالره

❍ يه ،

---

## نور عوايد

(ز) هغه عوايد چې د بانکي مفاد ، د باندرز ګټه ، د پس انداز او سپما تصديقونه او د نور و سرمايه ګذاريو څخه عايدات لکه د جايداد کرايه ، ګټه په ګرو ورکولو کې. پدې برخه کې د ؛تې او نقص پيسې مه ليکي.

❍ هو ،

↲ .00 ______ ______ ____ ډالره

❍ تاوان

❍ يه ،

(س) دتقاعد عوايد ، وقفه ای عوايد يو ځل مجموعي عوايد ، د RRSP او RRIF، په بشمول. پدې راپور کې هغه پيسې چې د تقاعد د پلان پر اساس رايستل کيږي مه شاملوي.

❍ هو ،

↲ .00 ______ ______ ____ ډالره

❍ يه ،

(ش) د عوايد و نور منابع: لکه دماشوم لپاره د مرستې پيسې او د سکالر شيپو پيسې.

❍ هو ،

↲ .00 ______ ______ ____ ډالره

❍ يه ،

---

په ۲۰۰۵ کال کې د ټولو منابعو څخه مجموعي عوايد.

- ❍ هو ،
- ↲ ______ ______ ____ .00 ډالره
- ❍ تاوان
- ❍ يه.

---

په ۲۰۰۵ کال کې څومره ماليه ( انکم ټشخص ) پردې عوايدو ورکول شوی دی.

◀ ______ ______ ____ .00 ډالره

---

لاندني پوښتنې د ټولو هغو اشخاصو لپاره دی چې معمولاً دلته ژوند کوي په شمول د هغو اشخاصو چې عمر يې د ۱۵ کلنۍ څخه لږ وی. که تاسو د نورو اشخاصو په غيابت کې دی پوښتنو ته ځواب ورکوي لطفاً يو او بل ته سره ووايا ست.

**۵۳ ـ د سرشميرنې قانون پر اساس کوم معلومات چې تاسو د سرشميرنې په فورمه کې ورکړی د هغې محرميت خوندي دی.**
يوا ځې په هغه صورت کې چې تاسو د «هو» ځواب په نښه کړي وي چې ستاسو شخصي معلومات دی د ۲۰۰۶ کال د سرشميرنې په هکله وروسته له ۹۲ کلنو څخه ښکاره شی. که «يه» ځواب مو په نښه کړي وي او يا مو دغه ستون خالي پريښي وي. ستاسو شخصي معلومات به هيڅکله ښکاره نشي.

آيا دا شخص موافق دي هغه معلومات چې د ۲۰۰۶ کال د سرشميرنې په فورمه کې د ځان په هکله ورکړيدي په ۲۰۹۸ کال کې دي علني شی (يعنې ۹۲ کاله وروسته د اوسنۍ سرشميرينې **څخه** دی ښکاره شی ).

- ❍ **هو**
- ❍ **يه**

---

# د د مرحله

لاندیني پوښتنې د ( ح – ۱ ) ۱ څخه تر ( ح -۸ ) پورې د هستوګنځي په اړه دي
هستوګنځي هغه کورونو ته ویل کیږي چې د ننوتو ځانګړې ورد بهر څخه یا د ګډ دهلیز او یا د زینو لار یې د تعمیر د داخل څخه ورننوتې وی. دا د ننوتو ور باید د بل چا د اوسیدو د ځای څخه تیر نشي.

ح ــ ۱ کوم شخص چې د دغه هستوګنځي کرایه ، یا بانکي سود ،مالیات، برق او داسې نور پریکوي ؟

که له یوه شخص څخه زیات اشخاص د دغو مخارجو په پریکولو کې ونډه اخلي نو هر شمیر ځوابونه چې صدق کوي هغه په نښه کړی.

- ❍ یو شخص
- ❍ ۲ شخصه
- ❍ ۳ شخصه
- ❍ ۴ شخصه
- ❍ ۵ شخصه
- ❍ یو بل شخص چې نوم یې د یو بل هستوګنځي په پوښتنلیک کې لست شویدي هم د دې مخارجو په پریکولو کې سهیم دي.
- ❍ یو بل شخص چې هغه دلته نه اوسیږي .

---

ح ــ ۲ تاسو د دې هستوګنځي :

یوائې یو ځواب په نښه کړی.

- ❍ خاوند یاست او که خاوند یې د دې کورنی. یو بل غړی دی ( سره د دې چې د پیسو ورکول یې لا جریان لری)
- ❍ کراکړی مو دی( سره د دې چې کرایه په نقده پیسو نه ورکول کیږي)

---

ح ــ ۳ (الف ) د دې هستوګنځي د خونو شمیر څو دی ؟

پدې شمیر کې پخلن ځاي (آشپزخانه) ، د خوب خونې یا په تهکوي(زیر زمیني) کې د اوسیدو خونې او بام بوتې. او نور شامل کړی. په هغې کې . تشنابونه ، دهلیزونه ،د راننوتلو ور په حنګ کې کوچني خونه( و یستوبلز ) او هغه خونې چې یوائې د بزنس د مقاصدو لپاره دی پدې شمیر کې مه راولي.

➔ د ټولو خونو شمیر : ______

( ب ) له دغو خونو څخه کوم شمیر د خوب خونې دی

➔ د خوب د خونو شمیر : ______

---

ح – ۴ اساساً دغه هستوګنځي څه وخت جوړ شوی وه ؟

که وروسته ځيني بدلونونه لکه د نورو خونو ورزياتول، مودل ته يي تغير ورکول يا داسې نور بدلونونه پکښې راغلي وي د هغې وخت مه ليکی. که د آباديدو کال درته معلوم نه وي خپل ډير نژدې تخمين وليکې.

- په ۱۹۲۰ يا مخکې له هغې څخه
- ۱۹۲۱ __ ۱۹۴۵
- ۱۹۴۶ __ ۱۹۶۰
- ۱۹۶۱ __ ۱۹۷۰
- ۱۹۷۱ __ ۱۹۸۰
- ۱۹۸۱ __ ۱۹۸۵
- ۱۹۸۶ __ ۱۹۹۰
- ۱۹۹۱ __ ۱۹۹۵
- ۱۹۹۶ __ ۲۰۰۰
- ۲۰۰۱ __ ۲۰۰۶

---

ح – ۵ آيا دا هستوګنځي ترميم ته اړه لري ؟

خپل د خوښي شکل ته تغير ورکول يا نور ملحقات ورزياتول پدې ځواب کې مه شاملوي .

- يه ، يوائې معمولي ترميم ته اړه لری( لکه رنګمالي ، د دود کښ پاکول او داسې )
- هو ، جزيي ترميماتو ته اړه لری( لکه د غولې د کاشيو نصب کول که مات او بې ځايه شوي وي يا د خښتو نصب کول، د زينی لرګيو د وړو تختو نصب کول، د زينو ترميم، د کتارو ترميم، د پياده رو ترميم او داسې نور )
- هو ، اساسي ترميماتو ته اړه لری( لکه د نلونو غزول، د برق د سيمونو اصلاح ، د ديوالونو ترميم، د چتو ترميم، د خونو د غولو ترميم او داسې نور ).

د ح ۶ څخه تر ح ۸ پوښتنې د هغه هستوګنځي په هکله دي چې تاسو همدا اوس پکښې او سيږي حتې که تاسو د يوه هستوګنځي څخه زيات کورونه ولري او يا مو په کرايه نيولې وي هغه وليکي. که د پيسو واقعي اندازه يې نه وي معلومه لطفاً خپل ډير نژدې تخمين وليکي.

يادوونه: که تاسو او ستاسو په کورنۍ کې بل شخص پر فارم کار کوي او همدلته ژوند کوي او يا هغه هم د دې زراعتي فارم کار کونکي وي لاندې پوښتنه په نښه کړئ ← ○ اوس نو دا په نښه مړئ، او په دا بل مخ کې د ذ مرحلې ته ور شئ.

ح – ۶ د دغه کور کلنۍ مصارف (تيرې ۱۲ مياشتې) په کال کې څومره دي؟

(الف) د برق مصرف ؟

- ○ هيڅ نه
- ○ دا پيسې د کرايې او يا نورو تاديا تو جز دي

يا .00 ______ ______ ____ ډالره ډالره په کال کې

(ب) تيل، ګاز، ذغال او نور مصارف ؟

- ○ هيڅ نه
- ○ دا پيسې د کرايې او يا نورو تاديا تو جز دي

يا .00 ______ ______ ____ ډالره ډالره په کال کې

(ج) اوبه يا د ښاروالۍ نور خدمات

- ○ هيڅ نه
- ○ دا پيسې د کرايې او يا نورو تاديا تو جز دي

يا .00 ______ ______ ____ ډالره ډالره په کال کې

---

ح – ۷ يواځې د کرايه ور کونکو لپاره

د دغه هستوګنځي مياشتنې کرايه څومره ده ؟

- ○ په نقدو پيسو کرايه ور کول کيږي

يا .00 ______ ______ ____ ډالره ډالره په يوه مياشت کې

---

ح – ۸ یواځې د کورونو خاوندان دی. دې پوښتنه ته د (الف)څخه تر (خ) جز پورې ځوابونه ولیکې.

(الف) په منظمه توګه د دغه هستوګنځي میاشتنی مجموعي پیسې چې د بانکي سود یا د قرضې د بیرته ورکولو لپاره پریکیږي څومره دي؟

○ هیڅ نه ← د ج جز ته ور شی.

یا .00 __________ __________ ډالره ډالره په میاشت کې

(ب) آیا د دې ملکیت مالیات چې د (الف) په جز کې ښودل شوي دی دلته شامل دی (د ښاروالي او ښوونځي لپاره)؟

○ هو د ج جز ته ور شی. ← ډالره کرایه په یوه کال کې؟

○ هیڅ نه

(ج) په تخمیني ډول د دغه ملکیت مالیات په کال کې څومره دي؟

○ هیڅ نه

یا .00 __________ __________ ډالره ډالره په یوه کال کې

(ح) که تاسو اوس وغواړي چې دا هستوګنځي وپلوري ستاسو انتظار به د هغې د پلورلو څخه څومره پیسې وې؟

.00 __________ __________ __________ ډالره

(خ) آیا دا هستوګنځي د یو راجستیړ شوی کاندو جز دي.

○ هو، ← د (د) د مرحلې سره ادامه ورکړی

○ یه. ← په دابل مخ کې د ذ مرحلې ته مراجعه وکړی

(د) د دې کاندو میاشتنی فیس څومره دي؟

○ هیڅ

یا .00 __________ __________ ډالره ډالره په یوه میاشت کې

---

# د ذ مرحله

## تاسو پوښتنلیک اوس بشپړ کړ.

---

# دوهمه برخه

# هغه دلایل چې ولې دا پوښتنې مطرح شوي دي

# هغه دلایل چې ولې دا پوښتنې مطرح شوي دي

## د الف مرحله

موږ ستاسو د ټیلفون نمبر ته یوائې د تماس په خاطر هغه وخت اړ یو که تاسو په پوښتنلیک کې د معلوماتو لیکل هیر کړي وي.
موږ ستاسو پتې ته اړیو تر څو ډاډ حاصل کړو چې ټول هستوګن ځایونه په شمیر کې راغلې دي. خپله پته یوائې هغه وخت بشپړ کړی چې د پوښتنلیک پر مخ نه وي لیکل شوي یا د سر شمیر ینې په ټاکلې ورځ یعنې د ۲۰۰۶ کال د مې د میاشتې ۱۶ نیټه ستاسو پته له هغې پتې څخه توپیر ولری چې د پوښتنلیک پر مخ لیکل شویده.
که ستاسو چاپ شوي پته کې توپیر موجود وی (لکه د کوڅې په نوم کې تایپي اشتباه یا د کوڅې نوم غلطه لیکل شوي دي)
تاسو مجبور نه یاست چې هغه په پوښتنلیک یا په چاپ شوي پته کې اصلاح کړی.
همداشانې ستاسې د ټیلفون نمبر او پته کیداې شي په هغه سروې کې استعمال شی چې د سرشمیرنې څخه به وروسته اجرا شي.

## د ب او ج مرحلې

دا مرحلې تاسو سره مرسته کوی چې تصمیم ونیسی چې څوک ستاسو په پوښتنلیک کې باید شامل او کوم اشخاص په دغه پوښتنلیک کې شامل نشی. دا ځوابونه موږ سره مرسته کوی چې ډاډ حاصل کړو چې ټول اشخاص مو شمیرلې دی چې موږ یې شمیر لو ته اړیو او هیڅوک دوه ځلې ندي شمیر ل شوی. لطفاً د خپل پوښتنلیک ۱، ۲، ۳ لارښوونو ته چې د دې پوښتنلیک پر دریم مخ لیکل شویدي مراجعه وکړی.

## د ح مرحله

د پوښتنلیک دا مرحله موږ ته څرګندوي که ستاسو د کورنی څخه کوم وګړی پر فارم باندې کار کوي. همداشانې ډاډمن کیږو چې موږ ټول فارمونه د کرنې د احصائیې لپاره شمیر لې دی.

## د خ مرحله

لطفاً په واضح ډول هغه نومونه په مربوطه ستون کې کاپی کړی چې مخکې مو د ب په مرحله کې د لومړی پوښتنې لپاره د څلورم مخ په پورتنی برخه کې لست کړیدي. لطفاً نومونه په عین ترتیب ولیکي کوم چې په دغه برخه کې لست شویدي.
دا مهمه ده چې ارقام (ډاتا) چې ستاسو د کورنی. د غړو په هکله تهیه کیږي د ټولو هغو اشخاصو د نومونو سره مطابقت کوي چې تاسو یې هویت څرګند کړیدي. دا پوښتنلیک ستاسو د کورنی د پنځو یا لږو اشخاصو لپاره طرح شویدي. که ستاسو په کورنی کې د پنځو څخه زیات وګړي وي تاسو به دوهم پوښتنلیک ته اړ وی. پدې حالت کې تاسو کولاې سی هغه د سرشمیرنې د ادارې وړیا ټیلفون ۲۰۰۶ – ۵۹۴ – ۸۷۷ ۱- له لیارې راوغواړي.

# پوښتنې

## اساسي معلومات د وګړو په هکله

لومړی پوښتنه د هر هغه چا د نامه په هکله ده چې پدې هستوګنځي کې او سیږي تر څو ځینې وګړی د شمیرینې څخه پاتې شوې نوي او یا دوه ځلې نه وي شمیر ل شوي .

د دې پوښتنو څخه موږ دا زده کوو چې په کاناډا کې خلک د ژوند کوم ترتیب او تنظیم لري، د کورنۍ ستروالې، د کوچنیانو شمیر چې آیا د یو والد سره یا د دواړو والدینو سره او سیږي. همدا شانې د خلکو هغه شمیر چې یوائې ژوند کوي. دا معلومات د ټولنیز پراګرامونو د پلان کولو لپاره لکه د ډیر عمر وګړو لپاره بسیا ژوند د (اولد ایج سیکوریټي) ، د کوچنیانو لپاره د تشخص امتیازات.
همداشانې دا معلومات د کوچنیو او لویو ښارونو لخوا د ډول ډول خدماتو د پلان کولو لپاره لکه د ورځني مراقبت مرکزونه (وړکتونونه) ، ښوونځې، د ډیر عمره خلکو لپاره د کورونو جوړول.

## ورځنی فعالیتونه

هغه ځوابونه چې د ۷ او ۸ پوښتونو څخه لاس ته راځي د هغو شمیر وګړو په هکله چې ورځني ستونزې لری او د دوی فعالیت را لږیږي. ځکه د جسمي، دماغي یا روغتیایي حالاتو له کبله. د کاناډا د سر شمیرینې اداره د لاس ته راغلو نتیجو څخه د هغو خنډنو د لیرې کولو لپاره چې دا وګړی ورسره په ورځنې ژوند کې مخامخ دي نور معلومات تر لاسه کوي.

## ټولنیز- فرهنګی معلومات

### د ۹ پوښتنې څخه بیا تر ۲۱ پوښتنې پورې د کاناډا د وګړو د پروفایل په برخه کې معلومات تهیه کوی.

نهمه پوښتنه د کاناډا د ولایتونو یا ټیریټوري او همدا شانې د کاناډایانو څخه د بهرني هیواد پوښتنه کوي چې وګړی چیرته زیږیدلي دی دا معلومات موږ ته څرګندوي چې د وګړو لیږدید نه (نقل مکاني) په کاناډا کې او دکاناډا او د بهر ینو هیوادو تر منیځ څه ډول ده ددې معلوماتو په رڼا کې موږ پوهیږو چې د کاناډا د وګړو د نفوس ډول ډولوالې (تنوع ) په څه شکل ده.

لسمه پوښتنه د کاناډا د وګړو د تابعیت موقف موږ ته څرګندوي دا معلومات د رای ورکولو د پلان جوړولو سره مرسته کوي. نو که دا معلومات دعمر د ارقامو ( ډاتا ) سره ترکیب شې موږ کولاې هغه اشخاص وشمیرو چې د رای ورکولو استعداد او توان( پوتنسیال) لری. په همدې ډول دا پوښتنه داسې معلومات تهیه کوی چې د هغې پر اساس د وګړو (اتباعو ) روزنیز ټولګی او پروګرامونه سمبال شي.

یولسمه او ۱۲ پوښتنه د کډوالو شمیر (د مهاجرینو شمیر ) او هغه اشخاص چې دلته په مؤقت ډول په غیر میشته سوی ډول ژوند کوي او هغه کلونه چې دې خلکو کاناډا ته مهاجرت کړیدي معلوموي. نو هغه معلومات چې ددې ځوابونه څخه لاس ته راځي د سرشمیرنې د نورو احصائیوي ارقامو سره ( ډاتا ) ترکیب کیږی او د مهاجرینو ټولنیز- فرهنګي حالات په یوه ټاکلې موده کې ښودل کیږي تر څو ددې معلوماتو په رڼا کې د مهاجرینو او داستخدام پر پالیسو او د پروګرامونو باندې نوی کتنه وسی. همداشانې ددې معلوماتو په رڼا کې د ښووني او روزنې او د روغتیایی خدماتو پلانونه جوړیږي .

د ۱۳ پوښتنې څخه بیا تر ۱۶ پوښتنې پورې د هغو پروګرامونو اجرات تر څارنې لاندې نیسی تر څو د کاناډا د وګړو حقوق د کاناډا د حقوقو او د آزادیو د منشور په رڼا کې خوندي پاته شی. همدا ډول دا معلومات مرسته کوي چې د انګلیسي یا فرانسوي ژبو لپاره خدمات او روزنیز اړتیاوي وټاکی.

۱۷ پوښتنه د کاناډا د نفوس په ترکیب کې د نژادو او فرهنګي تنوع څرنګوالې ښي. همداشانې دا پوښتنه د هغو معلوماتو را غونډول ممکنه ګرځوي چې ډیر فرهنګیزه قانون او د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور د اجراکولو لپاره ضروري دی. همدا ډول دا معلومات په پراخه پیمانه د نژادي او فرهنګي نهادو لخوا استعمالیږي. همداشانې دا معلومات د مؤسسو او تحقیقاتي مراکزو لخوا د روغتیايي فعالیتونو د کیفیت د لوړولو په خاطر ، په کمونیکشن او مارکیټنګ کې هم استعمالیږي .

اتلسمه ، ۲۰ او ۲۱ پوښتنې داب اوریجینل خلکو په باره کې ( شمالي امریکې انډینیز، میتیس، اینوټ) دی تر څو د قانون ګذاری او د استخدام پروګرامونه د انډین قانون پر اساس او په استخدام کې د برابری چارې اداره او سمبال سی. دا معلومات د څیړونکو او د اب اوریجینل حکومتونو او اتحادیو لخوا استعمالیږی تر څو په ډیر اړخیز ډول د دغو وګړو دیموګرافیک او ټولنیز- فرهنګي مسایل پیژندګلوي ته وړاندې کړي.

نولسمه پوښتنه د هغو ګروپونو په هکله دي چې موږ ته د لږکیو محسوس نفوس په کاناډاکې رابښئ. دا معلومات د هغو پروګرامونو لپاره ضروری دی چې د برابر استخدام د قانون پر اساس هر چاته د مساویانه فرصتونو زمینه مساعده او هغو ته ارتقا ورکړي .

## لیزدیدنه ( نقل مکانی / موبیلتی )

۲۳ او ۲۴ پوښتنې دا څرګندوي هغه اشخاص چې په کاناډا کې اوسیږي کومې لورې ته او له کومې لوری څخه د کاناډا په داخل کې او د بهر څخه کاناډا ته د تګ او راتګ په حال کې دی. دا معلومات ددې سره مرسته کوي چې د نفوس اټکل د دوو سرشمیرینو تر منیځ په ملي، ایالتي او سیمه ایز سطح باندې وشی. همداشانې دا معلومات راتلونکي اړتیاوي تشخیص کوي لکه د کورونو جوړول، ښوونه او روزنه، حمل او نقل، ټولنیز خدمات او سربیره پردې د هغو پروګرامونو په اداره کولو کې ونډه اخلي کوم چې د بودجې د قانون پر اساس تر اجرا لاندې دی.

## د پلار او مور د زیږیدو ځای

۲۵ پوشتنه د هغو وګړو د شمیر په هکله موږ ته معلومات را کوي چې په کاناډا کې زیږیدلې دی خو د دوي والدین د کاناډا څخه بهر زیږیدلې دی. د دې معلوماتو په استعمال سره په کاناډا کې د دوهم نسل ټولنیز- اقتصادي حالات ارزیابي کوي.

## ښوونه او روزنه

د ۲۶ پوښتنې څخه بیا تر ۳۲ پوښتنې پورې د خلکو د ښووني او روزنې او تعلیمي حالت په برخه کې چې په کاناډا کې اوسیږي موږ ته معلومات راکوي. او همداشانې د دوی د کارکولو خاص مهارتونه موږ ته څرګندوي. حکومتونه او استخدام کونکي اداري ددې معلوماتو په کار اچولو سره ارزیابي کوي چې دا په کافي اندازه ضروري ښوونه او روزنه ، د کار مهارتونه او لازم تعلیمي روزنه په اختصاصي ساحو په بشري قواو کې موجود دي او که نه ؟ د دې معلوماتو په لرلو سره به دوی قادر سی چې تعلیمي پروګرامونه ته وده ورکړي تر څو د بشري قوې بدلیدونکي اړتیاوو ته ځواب ووايي.

۳۲ پوښتنه هغه معلومات تهیه کوي چې په کوم شمیر وکړي ښوونځي ته تلونکی دی تر څو د هغې پلانګذاري او د لوړو زده کړو ، د لویانو لپاره د ښووني او روزنې پروګرامونه، د کاناډا د محصیلنو لپاره د پور د قانون پر اساس بودجه تخصیص ورکړی شی. همداشانې دا معلومات هغه مشوقاتو او پروګرامونو ته وده ورکوي چې وګړي خپلو زده کړو ته په تعلیمي مؤسسو کې دوام ورکړی او یا دوې خپلو زده کړو ته راستانه شی.

## کورنی فعالیتونه

د ۳۳ پوښتنې دا سې معلومات تهیه کوي چې خلک څومره وخت د کور په فعالیتونو کې پرته له مزده مصرف کوي.
کله چې دا معلومات د هغو ارقامو سره چې خلک د فعالیتونو په مقابل کې مزد تر لاسه کوي ترکیب سی د کاناډا د خلکو دا سې یو انځور لاس ته راځي چې څرنګه هغه وګړي چې په کاناډا کې ژوند کوي خپل مزداره او بې مزده فعالیتونه انډول کوي.

## د کار د مارکیت لپاره فعالیتونه

د ۳۴ پوشتنې څخه بیا تر ۵۰ پوښتنې پورې د هغو خلکو په باره کې معلومات ټولوي چې عمر یې ۱۵ کاله او یا تردې اوښتي وي او په مزد داره او شخصي کار و بار باندې بوخت وي. دا معلومات د حکومت ، بزنسونو لپاره په ټولو سطحو کې اهمیت لري تر څو تعلیمي او تربیوي پروګرامونه پلان سی او په دې ترتیب د ژبې استعمال ارزیابي او په آینده کې د کار کولو فرصتونه اټکل سی او په دې ډول اغیزمن د حمل او نقل او مسافرتونو پلانول تر سره شي. او د کارونو د تولید او ودې لپاره اقدامات په کمیونیټو کې د هیواد په ټوله سطحه تر سره شي.

## په ۲۰۰۵ کال کې عواید (انکم)

۵۱ او ۵۲ پوښتنې د عایداتو مفصل احصائیوي منابع چې د ټولو وګړو لپاره چې په کاناډا کې ژوند کوې د دوې د کور او کهول لپاره تهیه کوي. د مالیات بر عایدات سوابق نه دا چې ټول خلک دربر کې نیسی او نه هم ځینې دا سې معلومات چې د یو شخص کرکتر د عاید له کبله ونبئ موږ ته نه څرګندوي.

حکومتونه ددې معلوماتو په وسیله هغو پروګرامونو ته وده ورکوي چې د عواید په واسطه یې ملاتړ کیږي لکه دډیر عمره خلکو لپاره پیسې تیارول، ایالتي مالي مرسته، د ولفیر اشخاصو لپاره پیسې ورکول، همدا شانې عایداتي احصائیه د هغو پروګرامونو سره مرسته کوي چې مستحقو کورنیو ته په اغیزمن ډول کمکي پیسې ور ورسیږي. همدا شانې ددې معلوماتو په واسطه د نورو پروګرامونو ارزیابي تر سره کیږي لکه برابر مزد ، د کور جوړولو پروګرامونه ، او هم په هیواد کې هغه سیمې تشخیص کوي چې مرستې ته اړ وي.

بزنسونه عایداتي احصائیه د خپل پرچون فروشي او عمده فروشي د ځایونو د ټاکلو لپاره چې هلته څرګند مستهلک ګروپونه نژدې پراته وی د خپلو تولیداتو او خدماتو لپاره چې مستعد (پوتنسیل) مارکیټونه ګڼل کیږي ټاکی .

د کارګرانو اتحادیې او بزنسونه عایداتي احصائیه د مسلکي ګروپونو لپاره کله چې د اجورو د توافقاتو په هکله بحث کوي دا معلومات استعمالوي تر څو د دوي ادعاوي د جبران په لحاظ فیصله کړي.

هغه ټولنې چې د کاناډایانو په نماینده کې ټولنیزې مرستې ته اړه لری خپل ستونزې د عایداتي احصائیې پر بنا چې د سرشمیرینې د ادارې څخه یې تر لاسه کوي طرح کوي.

برسیره پردې وکړي هم کولای شی چې د عایداتي احصائیې پر اساس حپل عواید د هغه منځني عوایدو سره چې په ورته شغل کې ورکول کیږي په سیمه ایز یا د کل په حیث په ملي سطحه مقایسته کړي.

هیڅکله شخص او هغه معلومات چې وپیژندل شی د خرڅلاو او یا د پوستې لار ښوونې لستونو ته نه ورکول کیږي. هیڅوک د حکومت د ادارو په شمول لکه د کاناډا د عوایدو اداره ( CRA ) نشي مولاې د وګړو عواید او یا شخصي معلومات چې د سرشمیرینې اداري لخوا راټول شوي وي لاره پیدا کړي. دا د قانون حکم دی چې ستاسو ځوابونه محرم و ساتل شي.

## وروسته له ۹۲ کلنو د سرشمیرینی شخصی معلوماتو ته لاره پیدا کول

۵۳ پوښتنه د دې لپاره ورکوي چې هر وګړی ته د دې فرصت ورکول شوي دي د هغو معلوماتو په باره کې چې د سرشمیرینې اداري ته ورکړیدي یو معقول تصمیم ونیسی. یواځې که یو ځواب ورکونکی د « هو » پوښتنه یې په نښه کړې وی د دوی ۲۰۰۶ کال د سرشمیرینې معلومات به وروسته له ۹۲ کلنو څخه ښکاره (افشا ) شی د دغو معلوماتو د ښکاره کیدو په هکله موافقه راتلونکي نسلونه به بهتره توګه پوه شی چې د کاناډا ټولنه په ۲۰۰۶ کال کې کومه بڼه درلوده .

کله چې دې پوشتنې ته ځواب ویاست لطفاً هر هغه چا سره چې پدې کورنی. کې او سیږي مخکې له دې نه چې پوښتنې ته ځواب ووایاست مفاهمه وکړی او د هغوي نظریات پدې هکله تر لاسه کړی که د هغوي نظریات نا معلوم وی د دغه شخص لپاره دا پوښتنه بې ځوابه پریږدی. والدین او قانوني د سر پرستې والدین د کوچنیانو په نماینده ګی دې پوښتنې ته ځواب ووایي.

که یو شخص ته داسې حالت رامینځ ته شی چې وغواړي خپل ځواب ته تغیر ورکړی او یا هغه پوښتنې ته ځواب ورکړی چې بې ځوابه یې پریښې ده د سرشمیرینې اداري د متصدي سره دې په لاندی پته تماس ونیسي.

Access to Information and Privacy, Statistics Canada, 120 Parkdale Ave. Ottawa, ON, K1A 0T6.

## د د مرحله

د ح ۱ څخه بیا تر ح ۸ پوښتنې پورې د حکومت او شخص د کور جوړولو مؤسسو پلانګذارنو لپاره معلومات تهیه کوي چې د کور جوړولو کمیونیټو او پروژو ته انکشاف ورکړی دا معلومات نورو ډیرو پروګرامونو سره چې په ملي سویه د کور جوړولو د قانون، د کاناډا د سود د قانون او د کور جوړولو د اتحادیې ( Corporate ) ونډه پکې لری او د هغو په پلې کولو او اداره کولو کې مرسته کوی.

هغه معلومات چې د کورونو او د کور جوړولو د بیې په هکله او همدا شانې د خونو د شمیر په برخه کې را ټولیږي د هغو ارقامو ( ډاټا ) سره ترکیب کیږي چې په یوه کورنی. کې په کوم شمیر وګړي او سیږي تر څو په مختلفو سیمو کې د کورنیو اقتصادي حالت ارزیابي شی.
ایالتي او د ښاروالي حکومتونه ددې معلوماتو په مرسته په کورنیو کې د ګنې ګونې اندازه معلومو ي تر څو د کور جوړولو مناسب پروګرامونه ته انکشاف ورکړ شی.

هغه معلومات چې د هستوګنې ځایونو د عمر او د هغو ضرورت ترمیماتو ته په هکله را ټولیږي د ښاروالیو لخوا د چاپیریال د اصلاح کولو په پروګرامونو کې استعمالیږي .